مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهاجره حرکت

۲۰۲۵/۰۷/۰۹

# لارویان

نن سبا د هیواد وتلي لیکوال او نومیالي شاعر ډاکټر صاحب عبدالغفور لیوال (لارویان) په نوم کتاب زما لاس ته راغلی، د کتاب هر ځپرکی یې زموږ په هیواد کې د ناخوالو لاملونه په ګوته کوي، چې د ولسونو د پاکو عقیدو څخه د دین سوداګر څه ډول ناوړه ګټه اخلي او دوي د بدمرغی تورو تیارو ته تیل وهي.

دین او مذهب په نوم دغه سوداګر نه یوازي زموږ په خاوره کې د خلکو اورمیږونه تاوه وي، بلکي له ګاونډ څخه راغلي شیخان ساده او پاک زړي خلک داسي دوکه کوي، چې په خپل چاپیریال کې شته شتمني د دوي په لاس کې ورکوي او خپله د بدمرغي او بیوزلی ژوند تیروي.

په دې توګه د دین او مذهب دغه سوداګر ځانونه د الله پاک استاذی ګڼي، د خلکو مرئ زبیښي، ژوند یې تیاره کوي او هر ډول اسانتیا ترینه لوټي.

د کتاب محتوا پرتو ناخوالو او ناورینونو ته د لوستونکو پام راګرځوي، چې ډیر ژور فکر پری باید وکړي، تر څو یې سمه ارزونه وکړای شي.

لیکوال د کتاب په دري پنځوسم منزل کې، دغه وضعیت داسي انځوروی: لاروی او د ده مرید له یوې وچې او جل وهلي دښتي تیریدل، ناڅاپه د تاریخ په هدیره ورپیښ شول.

په دښته کې د خاورو یوه لویه ډیری وه او پر سربې زړې جنډې رپیدی. قبرونه نه و معلوم، داسي ښکاریدل، لکه پر یو لوي قبر چې ورپیښ شوي وي.

د ډیری تر څنګ یوه وچه ونه ولاړه او د ونې ډډ ته یوه لویه دړه ایښي وه، لاروی د هدیرې ډبر لیک ته ورغی او دا یې په کې ولوستل:

«دلته یو لوي قوم خښ دی، غیرتي قوم، چې زرګونه کاله تاریخ یې درلوده، یو میړنی اتل قوم، د زمریو په څېرزړور او د شاهین په څېر لوړهمته قوم...یو وخت یوه ګاونډي قوم دلته ورته یوه لویه کنده وایستله، د غیرتي قوم څو وګړي ور ولویدل او بیا د قوم نور وګړي د تربورګلوی او خپلمنځي بدیو په تیل کې ورتیل وهل شول، لویه کنده ګاونډیو لا پسي پراخه کړه او غیرتي قوم خپلو کې داسي سره ښکیل شو، چې یو بل یې ورتیل وهل.»

دغه راز کتاب هر یو منزل زموږ د ژوند ناخوالي داسي ژوري انځوروی او د هیواد پخواني او اوسني وضعیت ته هر اړخیزه کتنه کوي.

تیر تاریخ او اوسنی روان حالت په هیواد کې د ولسونو ویجاړ ژوند، چې مدام له یو بل څخه لریوالی او د توکم پالني روحیه زور اخلي، د نږدیوالي او مینې محبت اړیکو پر ځاي کرکه، پردي پالنه او د پردیو لاس پوڅو لاس وهنه نوره هم زیاتیږي، چې دا په لارویان نوم یې کتاب په هر ځپرکي کې په ډیر پراخ ډول سپړل شوي، لاملونه او له دغه ډول حالاتو څخه د وتلو لارې چارې په ګوته شوې دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د کتاب محتوا ته په پام سره ،موږ په داسي یو هیواد کي میشت یوو، چي پاک رب د طبعي زیرمو لویه لورینه رابانديٍ کړي، خو خاوره مو په داسي یو جغرافیه کي پرته ده، چي له هر لوري ورته د داړه مارو سترګي برګي دي او تل د ښکیلاککرو د موخو ښکار یوو.

هر انسان د خپل ژوند په سفر کي لاروی دی، چي ډیر کم لارویان داسي وړتیا لري چي په رڼو سترګو د خپل چاپیریال جاج واخلي او د حالاتو ارزونه وکړاي شي.

زموږ پوهان یا په دغه زمکه تیریدونکي د لارې لارویان، پر موږ تیر شوي، خو زموږ ولسونو یي غږ نه دی اوریدلی او کم تر کمه په ورکړل شوي پیغام یي زموږ سرونه نه دي خلاص شوي. ځکه تر ډیره دا د ولسونو د وروسته پاتي والي له وجي دی.

ښاغلی لیوال په پرانیستو لیمو سره یو سترګور او د بیدار زړه څښتن، د اوسنی زماني داسي پوهاند لاروی دی، چي دغه ناخوالي یي له نږدي تجربه کړي او د ناورینونو لاملونو تل ته کوز شوی، په خپل ژور فکر، په پراخ ډول په جاج اخیستلو سره یي ارزونه کوي او د ورستو دودونو، د دین په نوم ناوړه ګټه اخیستونکو کړنو ته یي انتقادي ګوته نیولي، خپل خوبولی ولس یي بیدارۍ ته هڅولی دی.

د ده لیکنه هر اړخیزه، ژوره فلسفي ده، چي په خپل چاپیریال، په ټولنه کي نږدي او وړاندي سیمه کي د روان حالت په هکله د پیښو له ژوري ارزوني څخه ورته جوتیږي.

ځکه فلسفه د انسانانو د ژوري ارزوني او غور کولو وړتیا لری او پر مټ یي د خپل ولس پر وړاندي، مسولیت او رسالت احساس کولي شی، چي په خپله ټولنه کي څه ډول چلند غوره کړي، تر څو منطقي او معقول وي او د ژغورني لار ومومي.

د انسان بدني جوړښت پاک رب په خپل حکمت سره داسي رغولی چي فزیکي او رواني جوړښت سره، د عقل و شعور و، فکر سره یي ورته بي جوړي، ښکلا او سمون ورکړی دی، له همدي کبله ورته په نړۍ کي د الله سبحان وتعالي خلیفه وایي، چي کولی شي په خپلي همدي وړتیا سره د ځان له پاره ژوند جنت یا دوزخ جوړ کړي.

دغه ډول وړتیا و ته په پام سره زموږ لیکوال په خپلي پیاوړي هنري لیکنه کي، پر ولس واک چلونکي، د خپل رعیت بي خبره او وروسته پاتي والي کي ساتل، د دین او دنیا سوداګرو کړني، په هیواد کي دننه د زورواکو حاکمانو او له بهر څخه د ښکیلاګرو اوږده لاسونه، پر پردیو پلورل شوي ناولي څیري، په سیمبولونو کي وړاندي کوي او له دغه ناورین څخه د وتلو لارې چارې په ګوته کوی.

له لومړي څپرکی څخه تر پاي پوري په ټولنه کي د هرې ناخوالي ارزونه یي کړې، چي تر ډیره په هیواد کي د روان ناورین، د وګړو تر منځ بي باوري، د پردو په لمسون، توکم پالني تیټ او ناوړه احساس انځوروي،چي لوستونکو ته ډیر څه ورکوي او بیا بیا یي فکر او له پیښو څخه جاج اخیستلو ته هڅوي.

د لارویان تر سرلیک لاندی دا کتاب د خپل وخت یو بي جوړي ښکلی څیرنیز اثر دی، چي د ژور فکر لرونکي لیکوال له ډیرو څیرنو او ارزونو څخه راوتلی دی، له غوره، ارزښتناکه کتابونو څخه دی او د لوستونکو تنده پری ماتیدای شي.

پاي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ